نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۷/۰۲/۰۲

# د سولې چانس ورځ تر بلې له لاسه ورکوو

د جون میاشتې په ۲۱مه ۲۰۱۷، د ملګرو ملتونو امنیت شورا غونډه کې ښاغلي یاماماتو، په کابل کې د ملګرو ملتونو استازي د سولې او افغانستان د امنيتي وضعيت په اړه داخل سپيني ځرګندوني درلودلې، هغه وويل: «افغان سوله قوي اراده غواړي، حکومت بايد په دې برخه کې ډیر څه وکړي، د سولې لپاره د ګاونډيو هیوادو مرسته اړینه ده، په افغانستان کې امنيتي او اقتصادي حالت نور هم مخ په خرابيدو لورته روان دي، او اداري فساد لا هم لويه ننګونه ده»
په ملګرو ملتونو کې د امريکا استازې اغلې ميشل سيسون وويل: «مريکا د افغانستان د حالاتو سياسي او پوځي ارزونه کوي»
په همدې غونډه کې په ملګرو ملتونو کې د پاکستان استازې اغلې مليحې وويل: «سياسي او پوځي هڅې يو وخت کې کار نه ورکوي، په کار ده چي يا خو د سولې او يا هم د جګړې تګلاره مخکې يوړل شي»
اغلې مليحې د پاکستان د لومړي وزير نواز شريف هغه خبره تکرار کړه چي کال وړاندې يې کړې وه: «سوله او يا جګړه، يوه لاره غوره کول افغان حکومت ته په کار ده»
په ورته وخت کې (۲۱ جون ۲۰۱۷) د امريکا د کانګرس ۴ غړو (روبين ګاليګو، ټيډ ليو، جان کونير او جيمي پانيتا) مطبوعاتي ناسته وکړه او دفاع وزير متيس جيمز ته يې ليک استولی، هغوی افغانستان ته د امريکايي پوځيانو له استولو سره مخالفت ښودلی، او د جګړې د ختمولو لاره يې سياسي حل او خبرې وبللې، دوی د امريکا ـــ افغان نوي تګلارې ۶ مياشتني ځنډ په اړه هم د ټرمپ له اداری څخه سپيناوی غوښتی دی، ويلي يې دي چي موږ (امريکايان) په افغانستان کې ګټونکي نه يو.

"Secretary Mattis is right – we definitely aren't winning in Afghanistan. And it's completely unacceptable that 6 months into the new administration, President Trump and his advisors still can't agree on a strategy," **said Rep. Ruben Gallego**, a member of the House Armed Services Committee and a Marine Corps combat veteran

په تيره فيبروري مياشت کې په افغانستان کې د امريکائي قواوو مشر نيکولسن ويلي و چي د افغانستان جګړه بن بست حالت کې ده، او کوم پرمختګ نه ليدل کيږي.
بل لور بيا د امريکا استخباراتي اداري راپور ورکوي چي د دوی اټکل کوي چي په ۲۰۱۸ کې به د افغانستان حالت ډير خراب شي.
ناتايد شوي راپورونه دادي چي امريکا غواړي داځل د داعش سره د جګړې په پلمه افغانستان ته نور پوځيان راوليږي، تر څو په سيمه کې جګړه دوام پيداکړي.
لومړی ځل دی چي چين هيواد په ښکاره ډول افغانستان ته د امريکايي عسکرو په ليږلو خپله انديښنه د رسنيو د لارې ښکاره کړه، د چين د بهرنيو چارو وزارت ويلي ( ۱۴ جون ۲۰۱۷) چي افغانستان ته د نورو امريکايي عسکرو ليږل به د افغانستان ستونزه حل نه؛ بلکې ستونزه به لا زياته او د سولې لپاره به ځنډ وي، او د نورو عسکرو ليږل د سيمې د انديښنې وړ ګرځي.
د ناټو وروستنی غونډه ( ۲۹ جون ۲۰۱۷) په بروکسل کې وشوه، افغان حکومت او امريکا تمه درلودله چي په ياده غونډه کې به د ناټو غړي هيوادونه افغانستان ته د خپلو اضافي پوځيانو شمير معلوم کړي.
په ياده غونډه کې نه خو امريکا افغانستان ته د اضافي پوځيانو د ټګ اعلان وکړ، او نه هم د ناټو نورو هيوادونو د امريکا او افغان حکومت دا غوښتنه چي افغانستان ته د خپلو پوځيانو شمير اعلان کړي، ومنله، يواځې برېتانيې اعلان وکړ چي د افغان پوځيانو د روزنې لپاره به د ۱۰۰ شاوخوا کې برېتانوي پوځيان افغانستان ليږي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

په غونډه کې د ناټو مشر او غړو امریکا ته په ښکاره وویل، دوی غواړي چې د افغان جګړې اړوند د امریکا تګلاره او موخې ورته روښانه کړي. غونډه کې د امریکا او افغان حکومت د تمې وړ لاسته راوړنې نه وې، او غونډه کې د پینټاګون او ناټو د مشر نظریاتو یو له بل سره توپیر درلود.

## په افغانستان کې د امریکا او سیمیزو هیوادونو موخې:

که څه هم ویل کیږي چې د امریکا اړیکې له پاکستان سره ترینګلې دي، ولې تر څو چې امریکائي عسکر په افغانستان کې وي، او یا خو نور عسکر دلته رالیږي، امریکا به مجبوره وي چې له پاکستان سره اړیکې ورغوي، ځکه د خپلو پوځیانو اکمالات او تجهیز به د پاکستان د لارې څخه کوي، ځکه د منځنۍ آسیا د لارې څخه روسانو ورته ستونزې جوړې کړي.
دا ډول که امریکا غواړي په ایران باندې اقتصادي بندیزونه دوام پیدکړي، بیا هم اړ دي چې له پاکستان سره اړیکې ښې کړي، ځکه پاکستان له ایران سره اوږده پوله لري.
که د پاکستان سره د امریکا اړیکې ترینګلې پاتې شي، نو بیا به پاکستان په سیمه کې د روسیې او ایران ګټې خوندي او له چین سره خو وار له مخه ټینګې اړیکې لري، او خپلو اهدافو ته د رسیدو لپاره به یاد هیوادونه په ګډه هڅه وکړي چې په امریکا د فشار لپاره په افغانستان کې امنیتي حالت خپلو موخو ته د رسیدو په منظور وکاروي.
امریکا چې له چین سره اقتصادي راکړه ورکړه لري، او په لویه پیمانه سوداګري ورسره لري، که د هند سره امریکا ډیر مخکې ځي، نو چین او پاکستان دواړه هیوادونه به د امریکا د دغه ډول تګلارې مخالفت کوي، او د مخالفت لپاره یادو هیوادونو لپاره بیا هم ښه ځای افغانستان دی، چې همدلته له امریکا او هند سره خپلې دښمنۍ وپالي.
سعودي عربستان چې په منځنۍ ختیځ او افغانستان کې د ایران له نفوذ څخه اندیښنه لري، غواړي چې د ایران د مذهبي، کلتوري او اقتصادي ودې د پرمختګ مخه ونیسي، اوس چې د سعودي عربستان اړیکې له قطر هیواد سره هم خراب لورته ولاړې، قطر هیواد به له ایران سره ښې اړیکې مجبوراً جوړوي، سعودي ته په ایران باندې د فشار لپاره په سیمه کې یواځیني پاتې دوه هیوادونه پاکستان او افغانستان کیدای شي.
داچې پاکستان پوخ سیاست لري، د سعودي د ګټو لپاره د خپل هیواد ګټې په خطر کې نه غورځوي، د دې پر خلاف افغان سیاستوال لږ سیاسي پوهاوی لري، او ډیر ژر احساساتي پریکړې کوي، سعودي عربستان به وغواړي چې په افغانستان کې ایران ضد ډلې تقویه او په ایران باندې د فشار لپاره ځینې ډلې وکاروي، بل خوا ځینې ډلې ټپلې له ډیر پخوا له ایران سره د مذهبي شراکت له مخې دلته د ایران د ګټو لپاره کار کوي، له همدې امله ده چې په افغانستان کې به د ایران او سعودي عربستان د ګټو لپاره جګړې پیل او تاوتریخوالي ته به لا زیاته زمینه برابره شي.
د روژې په میاشت کې د کابل ښار د اهل تشیع په مساجدو بریدونه او چاودنې ښیې چې پټ لاسونه وجود لري، تر څو د سعودي عربستان او ایران د غوښتنو، مخو او ګټو لپاره دلته کار وکړي.
روسیه، چین، ایران او هند اندیښنه لري چې په افغانستان کې د اسلامي دولت ډله (داعش) مخ په قوي کیدو ده، دوی شک لري چې د اسلامي دولت ډلې جنګیالي له پاکستان څخه افغانستان او بیا د افغانستان شمال ته لیږل کیږي، دا ډول روسیه او ایران په ښکاره وایي چې د اسلامي دولت ډلې ننګه امریکا کوي، چین په دې اړه څرګندونو کې محتاط دی، هند چې د پاکستان له خوا اندیښنه لري، د داعش اړوند ډیرې څرګندونې نه کوي، او که د هند او امریکا په اړیکو کې پرمختګ وشي، هند کیدای شي د داعش په وړاندې د روسیې، چین او ایران له بلاک سره یو ځای نه شي.

## د سوداګرۍ برخه کې د هیواد ستونزې:

افغانستان په وچه کې پروت هیواد دی، د دې لپاره چې د پاکستان د لارې د افغان تجارانو انحصار مات شي، د حامد کرزي په وخت کې د چابهار بندر د کراچۍ د بندر یوه عوضي لاره او په دې برخه کې امریکا هم ورسره موافقه درلوده، د ډاکټر غني په وخت کې د چابهار بندر پرانسته وشوه، هند هم د چین او پاکستان د ګټو خلاف همدې بندر ته خوشاله وو، خو داچې یاد بندر د ایران د اوبو په سیمه کې شتون لري، او ایران چې له امریکا سره یې اړیکې په خرابیدو دي، د یاد بندر د فعاله کیدو په برخه کې لیوالتیا نه لري.
افغانستان ته بله لاره د منځنۍ آسیا له هیوادو سره سوداګریزه راکړه ورکړه ده، په دې برخه کې ستونزه داده چې د امریکا او روسانو اړیکې ترینګلې دي، او د منځنۍ آسیا هیوادونه د روسیې د سیاسي او نظامي نفوذ په ساحه کې دي، له همدې کبله ده چې پرته له ترکمنستان څخه د منځنۍ آسیا له نورو هیوادو سره راکړه ورکړه او د هغوی ځمکې کارول ستونزمن ښکاري.
هند چې له افغانستان سره پوله نه لري، د سوداګرۍ په برخه کې د هوایي دهلیز پرانستنه وشوه (۱۹ جون ۲۰۱۷)، او هند ته د ۶۰ میلیونو ډالرو په ارزښت د سوداګریزو توکو لومړنی الوتنه (۱۹ جون ۲۰۱۷) له کابل څخه وشوه،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ولي داچې د هواء دلاري د توکو انتقال هند او له هند څخه افغانستان ته ګرانبیه پریوځي، او بیا هم د افغانستان الوتکي د توکو د لیږد او رالیږد لپاره کارول کیږي، یوه لندمهاله ګران بیه اقتصادي عوضي پروژه ده، ولي دوامداره او پایداره نه ده.

## خپله له طالبانو پرته؛ له سیاسي اړیکو یي نورو ګټه پورته کړه:

د سیاسی، امنیتي او اقتصادي ستونزو د حل په موخه افغانستان اړ کیږي چې امریکا قانع کړي، چې په افغانستان کې د جګړیزې تګلارې پر ځای سیاسي او سولییزه تګلاره ومني، که چیرته امریکا قناعت ونه کړي، جګړه دوام پیداکړي، په هر حالت کې زیان یې تر بل هر چا افغان وګړو ته زیات رسیږي، او د سیمې هیوادونو ته په افغانستان کې د رقابت او نیابتي جګړو زمینه برابریږي.

ځیني څیرونکي په دې نظر دي چې افغان حکومت د امریکا هغه تګلاره چې په افغانستان کې جګړه دوام پیداکړي، پر مخ بیایي او د سولي لپاره رښتوني قدمونه – نه اخلي.

د طالبانو له سیاسي او پوځي ځواکمن کیدو حالت څخه پرته له طالب څخه؛ بل هر چا ورڅخه ګټه پورته کړه، افغان حکومت نړیوالو ته وویل چې د طالب د قوي کیدو مخه ونیسي، او له حکومت سره باید خپلې مرستې دوامداره وساتي، روسیې د طالبانو سره د سیاسي اړیکو له امله امریکا تر فشار لاندي راوستله، او ایران د طالبانو سره د سیاسي اړیکو له امله سعودي عربستان او خلیجي هیوادونه په اندیښنه کې واچول.

دا ډول روسیه او ایران د اسلامي دولت – خراسان اړوند هم اندیښنه لري او له دې کبله یې په وروستیو وختو کې له طالبانو سره په سیاسي اړیکو کې زیات پرمختګ ولیدل شو، ښکاري چې ایران له سیاسي اړیکو ور ها خوا هم له طالبانو سره په اړیکو کې پرمختګ کوي، ولي روسان تر دې دمه پرته له سیاسي اړیکو له طالبانو سره په نورو برخو کې د بېلابېلو عواملو له امله مخکې نه دي تللي.

پاکستان په طالبانو باندي د نفوذ لرلو د نوم او کارت په کارولو سره، هر وخت له امریکا او نړیوالو څخه پیسې ترلاسه کړي، هند یې بې ځایه په ویره او اندیښنه کې اچولی، امریکا او نړۍ ته یې داسي بریښولي چې له پاکستان سره په اړیکو کې احتیاط وکړي، که نه وي، طالبان، په کشمیر کې جنګیدونکي ډلي او د چین یغور جنګیالي به بیا له د پاکستان له کنترول څخه ووځي، چې د پاکستان دا دروغجنې ادعاء زیان هر وخت افغان ولس ګاللی دی.

طالبان سیاسي اړیکو او د سیاسي اړیکو پر بناء سیاسي معاملو ته په ډیره کمه سترګه ګوري، زیاته توجه نظامي او جګړیزو اړیکو او موخو ته کوي، ولي په اوس وخت کې سیاسی اړیکي، او د سیمییزو هیوادونو سره د سیاسي اړیکو په نتیجه کې په ناټو سیاسي فشار شوني دی، کوم چې طالب په دې برخه کې ور او مهمه لاسته راوړنه لا هم نه لري.

افغان حکومت هڅه وکړه چې د سیمې هیوادونو باور د حکومت مخالفو ډلو په تړاو خپل کړي، داچې په سیمه کې د امریکایي پوځیانو له شتون او د امریکا د تګلارو سره هیوادونه مخالفت لري، له همدي کبله افغان حکومت هم په دې برخه کې پاتي راغی.

افغان حکومت هڅه وکړه چې د سعودي عربستان ملاتړ ترلاسه کړي، او د طالبانو او نورو وسلوالو ډلو اړوند د اسلامي نړۍ د علماوو ملاتړ هم د سعودي په مټ خپل کړي، داچې پاکستان له سعودي عربستان سره ژورې او پخې اړیکي لري، او طالبان بیا په هیواد کې دننه او بهر افغان علماوو کې نفوذ لري، له همدې امله په دې برخه کې هم افغان حکومت پاتې راغی.

افغان حکومت د خپلمنځي اختلافونو ښکار دی، ورځ تربلې سیاستوال ورڅخه فاصله نیسي، او ولس خو مخکې له مخکې ورڅخه فاصله نیولې ده، په تیر کوچني اختر ( ۲۴ جون ۲۰۱۷) کې په ارګ کې د افغان سیاستوالو نشتون دا ثابته کړه، چې ډاکټر غني لا هم نه دی توانیدلي چې د افغان سیاستوالو سره سیاسي هوکړو او معاملو ته ورسیږي.

او د اختر په ورځو کې په ترکیه کې د ښاغلي عطامحمد نور، استاد محمد محقق او عبدالرشید دوستم ترمنځ نوي ایتلاف به افغان حکومت نور هم په کور دننه له ستونزو سره مخ کړي.

فکر کیږي چې د دريې ګوني ایتلاف تر شا به د ترکیې په ګډون د روسیې او ایران لاس هم وي، او د یاد ایتلاف په رامنځته کولو سره به غواړي چې امریکا پلوه افغان حکومت کمزوری او په امریکا فشار وارد کړي، تر څو په افغانستان کې د روسیې، ترکیې او ایران ګټو ته پاملرنه وکړي.

طالبان بیا لویه ستونزه لري، هغه افغان سیاستوال، متنفذین، قومي مشران، ولسي لوستي کسان، افغان وړې ډلې او په دولت کې دننه مهم اشخاص چې غواړي اړیکي ورسره ونیسي، ځان ورته نږدې کړي، طالبانو لا هم د پخوا په ډول خپله ډله منجمد ساتلې، او په هر چا په سختي باور کوي، چې له همدې امله د طالبانو نږدې خواخوږي هم یو ډول مایوسه ښکاري.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

که څه هم له ۲۰۰۹ کال وروسته طالبانو په خپلو نظامي لیکو کې د ښوونځیو او پوهنتونو محصلینو ته ځای ورکړ، د مدرسې د طالب او د ښوونځي د زده کوونکي / پوهنتون د محصل تر منځ فاصله راکمه شوه، خو د طالبانو په سیاسي او اداري جوړښت کې لا هم یاده فاصله تر سترګو کیږي.

## بې باوري؛ لومړیتوب سولې که جګړې ته؟

د سولې په برخه کې په امریکا او افغان حکومت ډیری افغان سیاستوال، د سیمې هیوادونه (له هند پرته) او خپله د ناټو غړي ځینې هیوادونه بې باوره دي، په دغسې حالت کې اړتیا ده چې د سولې په برخه کې طالبان د افغان ولس سره په ګډه مخکښ رول ولوبوي.

که په اوسني حالت کې طالبان د جګړې د ختم او سولې ته د رسیدو لپاره سم سیاست ونه لوبوي، د سیمې او نړۍ د ځینو هیوادونو (هغوی چې په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو له شتون سره موافق نه دي) سره د اړیکو پر بناء په امریکا فشار رانه وړلای شي، او په دې برخه کې افغان ولسي فشار ته زمینه برابره نه شي، کیدای شي د وخت په تیریدو یې ډیر زیان طالبانوته او په ټوله کې به یې زیان افغان ولس ته رسیږي.

له ایران سره د طالبانو اړیکې د مؤقت وخت لپاره به د دې ډلې په ګټه وي، ولې تاریخي پېښو ته په کتلو، کله هم ایران د افغان سني ډلې باوري ملګري نه شي پاتې کیدای، او د طالبانو اوږد مهاله اړیکې له ایران سره د افغانستان په ګټه هم نه شي کیدای.

تر دې مهاله ؛ نه افغان حکومت او نه هم طالبان د سولې اړوند کومه روښانه تګلاره لري، داسمه ده چې حکومت به خپلمنځي ستونزې لري، ولې چې طالب هم د سولې په اړه واضح تګلاره په تیرو کلونو کې چمتو نه شوای کړلای، دا نو بیا پوښتنې پیدا کوي.

که طالبان په جګړه ټینګار کوي، لکه چې افغان حکومت او امریکا یې کوي، همدغسې تیروتنه کوي، له حکومت، همداسې تیروتنه کوي، لکه د ډاکټرنجیب ا لله د حکومت په ورستیو کې چې حزب اسلامي وکړه.

۱۶ کلونه جګړه وشوه، نړۍ پوهیږي چې افغانانو د خپلې خاورې څخه د دفاع لپاره له امریکا او ناټو پوځیانو سره سخته جګړه وکړه، د امریکا مخکښني ولسمشر اوباما د سپینې ماڼې له پریښودلو لږ مخکې وویل چې دوی طالبان مات نه شوای کړلای، ډیری امریکائي جنرالان خپله ماتې مني، په دغسې یو حالت کې طالبانو ته په کار ده چې په سیاسي حل باندې هم فکر وکړي، چې څه ډول کولای شي د افغان ولس سره په ګډه د بهرنیو پوځیانو د وتلو لپاره لاره پیدا او په هیواد کې د جګړې د ختم لپاره کار وشي.

## د جګړې اوږدوالي؛ ولس په ښکېلو لورو بې باوره کوي:

که جګړه اوږدیږي،د جګړو ښالید ته په کتلو، دواړو خواوو (طالب او حکومت) باندې د ولس باورونه هم متاثره کوي، او د جګړې د اوږدیدو له کبله ولس نهیلی کیږي، او له ښکېلو لورو سره یې خواخوږي او مرستې بدلون مومي.

اوس چې د ننګرهار په ځینو سیمو کې ولس د طالب او داعش تر منځ جګړو ځپلی، او په جګړو کې اسلامي او افغاني معیارونه په نظر کې نه نیول کیږي، ولس په یادو دواړو ډلو باندې نیوکې لري، چې دواړه ډلې د الله اکبر تر نامه لاندې په سیمو کې جګړې کوي، او تر ډیره یې بیا هم قرباني ولسي خلک دي. د داعش او طالب تر منځ د ننګرهار د ځینو جګړو بېلګې ښیي چې جګړه نوره هم پیچلي کیږي، او د جګړې د دوام لپاره پټ لاسونه کار کوي، جګړه داسې بڼه غوره کوي چې د سولې لپاره امیدونه په اوبو لاهو کوي.

د ښاغلي حکمتیار له اوسني حالت څخه مثبت ګټه پورته کول په کار ده، هغوی چې فکر کوي چې حزب اسلامي به د طالبانو او یا پخوانی شمال ټلوالې په ضد وکارول شي، موږ دا فکر هم کولای شو، چې حزب اسلامي کیدای شي د ښو افغان سیاستوالو په مرسته د سولې په برخه کې مثبت لورته وهڅول شي، او د دوی له شتون څخه په کور دننه د بهرنیو پوځیانو د وتلو او افغان شموله نظام جوړیدو لپاره کار واخیستل شي.

په وروستیو وختو کې لیدل کیږي چې تر پردې شاته پټ لاسونه د سولې ضد طرحې مخکې وړي، ځوانانو ته ذهنیت ورکول کیږي، چې پرته له جګړې بله لاره پاتې نه ده، هغوی چې د سولې په اړه کار کوي، او یا د رښتونې سولې خبرې کوی، د تخریب لپاره یې ښکاره هڅې کیږي.

## ایا امریکا رښتیا هم چې څه یې زړه غواړي هغه کولای شي؟

ځینې افغان سیاستوال بیا دلیل راوړي چې له امریکا سره ملګرتیا او امنیتي تړون د افغانستان د بسیا او خودکفاء کیدو له امله دی، ولې تاریخ ته په کتلو ؛ هیوادونه کله هم په جګړه کې پرمختګ نه شي کولای، او تر څو چې په افغانستان کې بهرني پوځیان وي، جګړه به دوام پیداکوي، او د جګړې له امله به زموږ هیواد نور هم په امنیتي، اقتصادي، افغان ارزښتونو او کلتوري لحاظ کمزوری کیږي.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

په هیواد کې د ناامنۍ اصلي جرړې په ګوته کول په کار دي، امریکا دلته جګړه کوي، بهرني پوځیان شتون لري، افغان ولس له ځان او خاورې څخه د دفاع په موخه له بهرنیانو او د بهرنیانو په لاس جوړ حکومت سره جګړه کوي.
ولې یوه ډله افغانان بیا د امریکا سره ملګري او د امریکا په مرسته له خپل ولس سره په جګړه کې ښکېل دي، چې د جګړې قرباني دواړو لورو ته افغانان، ولې د افغان جګړې څخه اقتصادي، مذهبي او د سیمې انحصاري ګټې او موخې د سیمې او نړۍ ځینې هیوادونه ترلاسه کوي.
همدا ډول په سېمه کې د امریکا د جګړېز سیاست له امله ایران، روسیه او چین په دفاعي حالت کې قرار لري، هغوی نه غواړي چې جګړه دې د افغانستان له خاورې څخه ددوی هیوادونو ته هم ثرایت وکړي.
ډیری افغان سیاستوال او په ځانګړي ډول په ښارونو کې لوستي ځوانان فکر کوي، چې امریکا په سېمه کې ځانګړي موخې لري او کوم اهداف چې لري، د عملي کولو لپاره یې امریکا لګیاه ده، او امریکا خپلو موخو ته په رسیدو کې شاته نه ځي، مګر داسې نه ده.
په آسیا کې پروت د امریکا لاسپوڅو د فلیپین هیواد چارواکو له امریکا سره داسې تړون کړی وو، چې د فلیپین د ولس او ځوانانو څخه د آزادۍ غوښتلو حق هم سلب شوی وو، خو ځوانان او ولس یې د امریکا په ضد راپورته شو، او امریکا پلوه فلیپینی ولسمشر د امریکا په چورلکو کې له هیواده وتښتیدی.
په ایران کې امریکا پلوه شاهی نظام د ایراني ولس لخوا ونړیدی، او عملاً ګورو چې امریکا په سوریه کې خپلو موخو ته ونه رسیدله، او ناکامه شوه.
په ترکیه کې د امریکا د پلویانو ترکانو له خوا د پوځ کودتاه (۱۵ – ۱۶ جولای۶ ۲۰۱) د ترک ولس لخوا ناکامه شوه، او په ایران بندیزونه لګول د اوباما په وخت کې بیرته مشروط لیرې کیدل، د وینزویلا هیواد سره د امریکا دوستي ته مجبوره کیدل، د کیوبا هیواد ته د ولسمشر اوباما تګ (۲۱ مارچ ۲۰۱۶) او د هغه سره له کتنې څخه فیډل کاسترو ډډه کول، د شمالي کوریا لخوا امریکا ته اخطارو ورکول، په افغانستان کې د امریکا او ناټو مقابل کې ۱۶ کاله د طالبانو او افغان ولس جګړه کول هغه څه دي، چې کله هم امریکا نه شي کولای ولسونه مات کړي.
افغان ځوانانو ته په کار ده چې په افغان چارواکو، افغان سیاستوال، طالبانو او بېلابېلو سیاسي او نظامي ډلو فشار راوړي چې د هیواد د ژغورنې په خاطر د خپلو ګټو څخه تیر، او افغان ځوانان د خپل ولس د مشرانو په ملاتړ هڅه وکړي چې یاد جوړښتونه مجبوره کړي چې په افغان شموله نظام توافق وکړي، که خدای مه کړه، سوله ونه شي، هیواد مو یوې بلې اوږدې جګړې ته ننوځي، چې بیا به پورته یاد شوې جوړښتونه متضرر او افغان ولس به د یوې بلې لسیزې لپاره هم د پردیو هیوادونو د ګټو قرباني وي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ